DAILY
# اراده
د افغان نشراتی مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

سال سوم شماره یکصدوسی ونهم
شماره مسلسل ۲۱۹
چهارشنبه ۱۱ سرطان ۱۳۸۲ هـ.ش
۲ جمادی الاول ۱۴۲۴ هـ ق
2 July 2003

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

# تامین امنیت افغانستان به عهده خود افغانها است



جکسترا وزیر خارجه بریتانیاکه، عصر روز دوشنبه (30 جون) وارد کابل شد پس از دیدار با همتای افغانی اش داکتر عبدالله وزیر امور خارجه، در یک کنفرانس خبری شرکت کرد و به پرسش های خبرنگاران پاسخ گفت.

آقای سترا از تغییراتی سخن گفت که در فاصله سفر پیشین او به کابل در فبروری سال گذشته میلادی در افغانستان به وجود آمده است.

وزیر خارجه بریتانیا گفت: "تغییرات زیادی در افغانستان مشاهده می شود، مردم احساس آرامی و آزادی بیشتری می کنند، فعالیت های اقتصادی در نقاط مختلف کشور در جریان است و درعرصه های آموزش و پرورش و صحت نیز تغییرات مثبتی دیده می شود." او افزود: "با وجود این همه هنوز مشکلات زیادی وجود دارد و دولت افغانستان با چالش های فراوانی رو برو است."

جکسترا، یکی از این چالش ها را مساله امنیت دانست و گفت: "نگرانی اصلی ما در مورد امنیت است که ما دراین زمینه، مشترکاً با افغانستان کار خواهیم کرد تا وضع امنیتی این کشور بهبود یابد."

او افزود: "همچون هر کشور دیگری، افغان ها نیز باید خودشان تامین امنیت کشور خود را به عهده داشته باشد."

بقیه ص ۲

## انفجار بمب در مسجد

کندهار:

روز دو شنبه در اثر یک انفجار قوی در ولایت کندهار حدود ۲۵ تن مجروح شدند گل آقا شیرزوی والی کندهار گفت: این انفجار درست هنگام ادای نماز عصر در یک مسجد بوقوع پیوسته است به اساس گزارش های رسیده وضعیت چهار تن از مجروحین و خیم خوانده شده است همچنان والی کندهار گفته است این واقعه از اثر انفجار یک بمب ساعتی که دریک گلدان جابجا شده بود رخ داده است. حادثه در حالی صورت می گیرد که ملا امام این مسجد عبدالله فیاض چندی قبل اعلامیه جهاد بقایای طالبان را رد نموده بود.

## جکسترا په کندهار کې



دانګلستان دبهرنیو چارو وزیر جکسترا پرون افغانستان جنوب د کندهار ښارته لږ وروسته تر هغه ورسید چې دښار په یو مسجد کې دیوې چاودنې له کبله ګڼ شمیر خلك ټپیان شول. جکسترا دکندهار له والي ګل آغا شیرزی اوځینو ښاریانو سره وکتل.

دکندهار خلکو جکسترا ته وویل چې دوی دامنیتی حالاتو دخرابوالی نه اندیښمن دی. دانګلستان دبهرنیو چارو وزیر افغانستان ته دخپل سفر په لومړۍ ورځ تینکار کړی چې دی به دامنیتی وضعیت دښه والی اودنشي توکیو دکرکیلي دمخنیوی په برخو کې دهیواد له وګړو اودولت سره پراخه همکاری ترسره کړي. دغه راز جکسترا په کندهار کې دهغه ولایت مخورو اوسپین ږیرو ته ویلی چې دمرکزی حکومت په ملاتړ سره دې ددایمي سولې لپاره هر راز هڅې په کار واچوی.

پداسې حال کې چې دافغانستان دسیاسي اوپوځی بیارغونو لګښت اوچت شوی انګلستان غواړی دامنیت اودنشه یي موادو سره دمبارزې په برخه کې ۱۰۰ میلیونه پونډه نوره مرسته وکړي.

## دکابل ـ کندهار په لویه لاره کار پیل شو

میدان:

دامریکا د اعلامیې له مخې دکابل - کندهار دلویې لارې دقیر اچونې کار پرون پیل شو. پدغه پرانیستونکو مراسمو کې دافغانستان دفوایدعامې وزیر عبدالله علی او دامریکا سفیر رابرت فن هم ګډون کړی و.

تاکل شوې ده چې ددغې لویې ترانزیتی لارې دا ساسی جوړیدو کار به د ۲۰۰۴ میلادی کال تر وروستیو پورې بشپړشي. په پام کې ده د کابل هرات دلوې لارې په جوړیدو به چې اوږدوالی یې ۱۲۰۰ کیلو مترو ته رسیږي. ۱۸۰ میلیون ډالرولګول شي چې سعودی عربستان. امریکا اوجاپان ددغې مالي مرستې ژمنه کړې ده.

## دري تویکیان محاکمه کیږي

دهیواد له شمال څخه دپولیسو درې تنه چارواکي چې په وژنو تورن دي دکورنیو چارو دوزیرپه امر دمحاکمې لپاره کابل ته راوستل شوی دي. پدغو کسانو کې دوه تنه نجیب الله قریشی اوامین زابلی چې دپولیسو چارواکی دي. ددوی ترمنځ دوه میاشتې وړاندې په نښتو کې دملګرو ملتونو دوه سیمه ییز ساتندویان وژل شوی وو. په شمال کې داسې ډیرې ورته خپل منځې نښتې دخایی قوماندانانو ترمنځ پیښې شوی دی چې سیمه ییزو وګړو ته پکې مالي او ځانی زیانونه اوښتی دی. دغه اقدام شمال ته دکورنیو چارو دوزیر له سفر وروسته ترسره کیږي چې دهغه ځای په امنیتی وضعه یې اندښنه ښکاره کړي وه. دا لومړی ځل دی چې دوسله والو نښتو رامنځته کوونکي د محاکمې لپاره وړاندې کیږي

## سرمقاله

د لمړی او بیونکی خدای په نامه

## ریختن خون در مسجد میتواند جهاد و دفاع از دین تلقی شود؟

مسجد بنا بر اعتقاد ما مسلمان ها خانه خدا و محل عبودیت و پرستش آن ذات یگانه و مکان راز ها و نیازهای بنده گان مومن با باری تعالی بشمار میرود. مبتنی بر شریعت اسلامی، مسجد از جمله مکانهای مقدسی است که اکثر اعمال و افعالی انسانی در آنجا در تحریم قرار دارد به جز از عبادات و ملزومات آن مردم میتوانند استثناً اجتماعاتی را که آنهم فواید دینی و انسانی و اوامر و نواهی شرعی را متضمن باشد، در آنجا برگزار کنند. زیرا مسجد، مکان پاک و منزه و یکی از تأسیس های سودمند دینی و اجتماعی استکه مومنان در آنجا به منظور خاص گرد می آیند، همینجاست که معرفت و ارتباط های انسانی تأمین و برقرار میگردد و حلقه وصلیست بین مردم یک محل که همواره از خیرو شر همدیگر درینجا میتوانند مطلع شوند و برای همدیگر ممد و موثر باشند.

اما درینجا، در مسجد، در خانه خدا، کسانی به نام اسلام و با دستاویز جهاد بمب گذاری میکنند، خون میریزند و مرتکب جنایت میگردند و سفاکانه به ترور و آدمکشی دست می زنند که وقتی استفسار هم کنی اراده خود را نگهداری دین خدا و از بین بردن مفسدان فی الارض و درنهایت نابودی دشمنان اسلام و ازاین قبیل پندار ها وانمود می کنند.

بمب گذاری در مسجد جامع عبدالرب که ۲۳ نفر از هموطنان مسلمان ما را در لحظات عبودیت و پیوند یافتن و مکالمه با خداوند تعالی به خاک و خون کشید، یکی از همان کار های است که از سالهابدینسو درین کشور وبرانه به نام اسلام مقدس و بنام حفاظت از دین خدا صورت میگیرد. این رویداد دلخراش که با زخمی شدن مولوی عبدالله فیاض نماز گزار مسجد نیز توأم است، یکی دیگر از همان انتقامگیری های وحشیانه است که مشتی مسلمان نمای ادعا گر در حرم خداوند خون بنده گانش را ریختند تابه پندار سفیهانه، خود شان، پاداش و پاد افره این عمل خویش را از پیشگاه احدیت طلب کنند و بر حسنات اعمال خویش بیفزایند، بیخبر از آنکه آنان مومنان و رهروان راه خدا را از راه راست، راه آسایش و رفاه و سعادت ملی و همگانی و راه پیروزی حق بر باطل و راه خیر انسانها میخواهند برگردانند و میخواهند این حقیقت که بهترین مردمان کسانیست که نفع شان به مردم برسد. از زمزمه رستگاران بشمار روند، مولوی عبدالله فیاض اگر راه سعادت مردم مصیبت زده و محنت کشیده این وطن را اختیار کرده، و اگر جهاد کفر آمیز و دروغین و بی پایه، مشتی از اسلام نمایان را مردود شمرده و یامشروعیت آنانرا بر طبق شرع شریف نفی کرده، راه راست و صراط مستقیم را در پیش گرفته است.

بقیه ص ۲

## دبغلان په اداري چارو کې بدلون رامنځته شوی

بغلان

دبغلان ولایت چاوراکو په اداري چارو کې داصلاحاتو دراوستو په خاطر دهغه ولایت په اداري واحدونو کې یو شمیر بدلونونه راوستی دی. دبغلان والی انجنیر محمد عمر ویلی چې ددې ولایت په ۱۴ ولسوالیو کې دغه ډول بدلونونه رامنځ ته شوی دی او له هغې جملې څخه په پنځو ولسوالیو کې غیر جهادی کسان ګمارل شوی دی. دانجنیر محمد عمر په وینا په دغو سیمو کې مشورتی ډلې او کمیسیونونه هم جوړ شوی دی. چې دسیمې دبهلابیلو قومونو ترمنځ دلاتجو دهواری اوګډ ژوند لارې چارې رامنځ ته کړای شي.

## سی در صد مواشی از بین رفته است

بغلان:

در اثر شیوع بیماری های گوناگون حیوانی در ولایات شمال شرقی افغانستان در دو ماه اول سال جاری (۳۰) در صد مواشی از بین رفته است. به گفته دوتن از کوچی های مالدار که اخیراً از ولایت بغلان به کابل آمده اند امراض مختلف از جمله طاعون حیوانات در ماه حمل شیوع یافت که حیوانات زیادی را از بین برده است مالداران درین ساحه از نبود دارو های لازم شکایت دارند و می گویند ادویه را از کابل، مزارشریف و سایر ولایات خریداری کرده و بدون معاینه داکتران بالای حیوانات تطبیق می کنند مالداران این ساحه واکسین و تطبیق ادویه توسط وزارت زراعت و موسسات خارجی را بی موقع خوانده و اقدام وزارت زراعت را عامل وارد آمدن تلفات شدید بر حیوانات شان خوانده اند.

## انتقاد آیت الله سیستانی از امریکا



شایستگی برای تعیین اعضای مجلس تسوید قانون اساسی عراق برخوردار نیستند.

آیت الله علی سیستانی، از مراجع تقلید شیعیان، در فتوایی از اقدامات مقامات امریکایی در عراق برای تشکیل یک شورا از عراقیها باهدف تدوین پیش نویس قانون اساسی انتقاد کرده است. آیت الله علی سیستانی، بزرگترین مرجع تقلید شیعیان در عراق است و بسیاری از مسلمانان شیعه از فتواهای او پیروی می کنند. نیروهای امریکایی در عراق در ماههای اخیر بارها از نظرات معتدل او استقبال کرده اند و نقش او را سازنده دانسته اند. آیت الله سیستانی به جدایی دین از دولت معتقد است و به ندرت فتواهای سیاسی صادر می کند. ولی فتوای جدید آیت الله سیستانی ضربه سنگینی است به برنامه های امریکا برای ایجاد یک دولت جدید در عراق. او در پاسخ به یک استفتاء گفت که نیروهای اشغالگر از هیچ گونه

## در شورای عالی وزرا چی گذشت

کابل:

دکتور اشرف غنی احمدزی وزیر مالیه در جلسه عالی وزرا گفت: بیش از ۴۳ میلیون دالر عواید از مرکز و شماری از ولایات افغانستان جمع آوری شده است. همچنان درین جلسه محمد حنیف اتمر وزیر احیا و انکشاف دهات در مورد برنامه همبستگی ملی و توجه به اهالی قریه های افغانستان گفت: اجرای این برنامه در ۲۹ ولایت افغانستان آغاز شده و در مدت چهار ماه آینده (۲۳۰۰) قریه افغانستان را زیر پوشش قرار خواهد داد درین جلسه قانون هوانوردی ملکی که قبلاً توسط کارشناسان آماده گردیده بود نیز توسط اعضای کابینه به تصویب رسید.

# نشه یې توکې

محمد الله علمی

په افغانستان کې د کوکنارو کرلە ډیرو پخوا زمانو څخه په سرحدی سیمو کې دودو خو کله چې ددې هیواد په ستونې جګړې خپلې خونړې منګولې خبثې کړې او حکومت ګډوډ شو نودکوکنارو دودیزه کرنه له سرحدی سیمو څخه راووتله اولویو بشارونوپورې وغزیدله نړیوال دغې زهري بوټې ته په کرکه ګوري ځکه له کوکنارو څخه آپین اوله آپینو څخه هیروین جوړیږي اوهیروئین هغه زهر دی چې دژوندی انسان څخه مړی جوړوي.

په افغانستان کې دبیلابیلولاملونو له کبله دکوکنارو کر ډیر شوی دی لکه جګړه، فقر، دآپینو اسانه ساتل اولیږل ر الیږل دمخدره موادو قاچاق په نړیواله بڼه.

دآپینو ډیربښت دکرنې د جوړښت ویجاړتیا او دلسې نور. دنشې استعمال ډیر بې شمیره زیانونه لري اونړیوال امنیت له خطر دخطر او زیان سره مخ کوی دروغتیا رڼې هنداري ماتوي دبدن دغړو وزرونه غوڅوي اقتصادی توانایی له منځه وړي دټولنې امنیت خرابوی اودانسانیت ارخونه نیمګړی کوی. په ځینو شیانو کې لږ اوډیر نشه موجوده وي مثلاً تنباکو، سګرټ، چیلم، نسوار او نور چې دهغوی دپرله پسې استعمال له کبله خلک پر هغوی روږدي کیږي که څه هم په نومورو شیانوعادت کیدل بڼه کار ندی خو یو شمیر نور مواد شته چې دانسان ژوند تباه کوی لکه مارفین ، هیروین ، آپین ، چرس، بنګ.....

دنشه ییزو موادو کارول یوازې په خپله دنشه کوونکو لپاره نه بلکې دهغه دکورنۍ او ټولنې دپاره غټه ستونزه ده ځکه نشه کوونکی دکار اوروزګار څخه لویدلی وي څه نه شي کولای او همیشه یوازې دخپلې نشې په اړه فکر کوي نوځکه په کورنۍ باروي او دکورنۍ غړي مجبوراً دهغه بوج په غاړه اخلي. دغلا او ځینو نورو ډول ډول جرمونو له کبله یې هر چاته زیان رسیږي نو پدې ډول نشه یی ټولنه زیانمنوی. نشه یی ډیر ژر په ناروغیو اخته کیږي له خلکو نه ځان ګوښه ساتي او کوښښ کوی چې له هر چا سره اړیکې ونه لري ځوک یې په خبرو باور نه کوي او ټول خلک تري بیزاره وي له حلالې لارې روزي نه شي پیدا کولای . دنشه ییزو موادو لپاره هر ډول جنایت لکه غلا، لاره وهنه، قتل..... کوی.

له خپلې کورنۍ سره اړیکې نلري او همیشه دکور او کورنۍ څخه شړل کیږي ډارن اوویرونکی وی خیرن او بوی ناک وی خلک تري ځان ګوښه ساتي دضرورت په وخت کې پرې دبې هوشۍ درمل اغیزه نه کوي عمر یې لنډ وي او ژرمري، پرته لدې چې نشه سړې ګنګس وي.

په پای کې باید ووایم چې له نشو سره مبارزه دهر ځوان دینې او ملي دنده ده چې دنشه یې موادو مخه ونیسي.

که حکومتونه اوبشري خیریه ټولنې پدې لاره کې لاسونه یو کړی او هلې ځلې وکړي او په ګډه دنشه یې موادو پرضد مبارزه وکړي دنشه یې موادو دقاچاق او دکر مخه ونیسي مونږ باور لرو چې ډیر ژر به انسان او ټولنه لدې زهرجن رنځ نه خلاص او بې غمه شي.

په افغانستان کې دکوکنارو دکرمخنیوی پدې اساس کیږي چې پدې هیواد کې داوبو لګولو سیستم په فنی بڼه جوړ شي په هره ولسوالی کې داوبو فنی بندونه او ویالې اوداوبو ذخیرې په پاخه ډول جوړې شي اوخلکو ته کار او روزګار پیدا شي نو له یوې خوا دکوکنارو دکرمخنیوی کیږي او له بلې خوا ټولنه ددې زهر جن بوټې څخه بې غمه او خلاصیږي.

# هیواد او سوله

عبدالقادر شویدر

زمونږ ګران هیواد خورا لرغونی تاریخ لري ددې هیواد خلك هیواد پال، ملت پال، میلمه دوست اومیلمه پال خلك دی.

ددې خاورې خلکو تل له ازادی او خپلواکی څخه په میرانه او سربندنه ساتنه کړیده.

ددې وطن خلکو، ټولو قومونو او ملیتونو هیواد ا و خپلواکي ته د خطر دپیښیدو په وخت کې خپل ټول اختلافات پریښودلی دی دهیواد او خپلواکی لپاره ټول په یوه کتار کې دریدلی دی زمونږ دهیواد او خلکو دښمنانو ته یې په پوره زړه ورتیا ماته ورکړې او خپل هیواد یې ساتلی دی. دامیر امان الله خان په وخت کې چې زمونږ هیواد وال دازادی لپاره جنګیدل ددې هیواد خلك دخپلو مشرانو تر لارښونې او مشرۍ لاندې دخپلواکی او آزادی دپاره په خورا میرانه او زړه ورتوب وجنګیدل افغانی پوځ دخپلو اتلانو او مشرانو تر لارښونې لاندې ددښمنانو پوځی چهاونې او قشلې دتوپونو په ډزو رنګې کړي د افغانستان عامه خلکو دخپلو قومی مشرانو او قوماندانانوسره یو ځای د ملي اردو سره اوږه په اوږه دهیواد خپلواکی وګټله. کله چې په ۱۹۲۱ م کال کې رسماً دافغانستان خپلواکی وګټل شوه نړیوالو په رسمیت وپیژنده اوهغه خلك چې له ملي اردو سره یې ملګرتیا کړې وه دوی ټول خپلو ولایاتو او خپلې سیمو ته لاړل او په خپلو پخوانیو دندو بوخت شول. له دولت څخه یې کومه کرسی او امتیازات ونه غوښتل. ځکه دوی داکار دخدای(ج)، رسول(ص)، اسلام ، هیواد او ملت، دهیواد دآزادی دپاره کړې و.

همدارنګه د افغانستان دخپلواکی په جګړه کې دوزیرستان دخلکو په زرګونو خلکو ګډون وکړ او همدارنګه دکوزې پښتونخوا او بلوچستان خلکو خپل ټول مادي او معنوی توان د افغانستان د آزادی دپاره استعمال کړ مګر دوزیرستان او د کوزې پښتونخوا خلکو چې د افغانستان په آزادی کې یې برخه اخیستې وه پخپلو سیمو کې خپل ژوند ته دوام ورکړ یوازې دګوتو په شمار خلکو چې هغوی دانګریز دحکومت تر څارنې لاندې وو افغانستان ته راغلل ترین توری خیل چې د افغانستان دخپلواکی ستر قهرمان او هغه افغانستان ته رانغی اود افغانستان له حکومت څخه یې دخپل خدمت په مقابل کې څه ونه غوښتل ځکه چې دی ستر قهرمان یوازې خپله انسانی. اسلامی ا و افغانی وجیبه سرته رسولې وه. لنډه دا چې په ګران هیواد افغانستان کې وروستیو اوږدو کورنیو جګړو په هیواد کې دعلم او پوهې سایښس او تکنالوژی د هیواد د غوړیدنې د بڼځو دعلم او پوهې په مقابل کې خطر رامنځته کړ.

دجهان او نړۍ خلکو په د تباهۍ خواته لاړ شي هیله ده قوماندانان د افغانستان دخپلواکی داتلانو لار هیره نکړي او دمرکز درناوی وکړي.

اوپوهې دپرمختګ د مخالفینو مخه یې ونیوه د دې دپاره چې په افغانستان کې په ډاډه زړه ګټور کارونه وشي باید ټول قوماندانان دخپلو پلارونو او نیکونو په څیر د مرکزی دولت په شاوخوا راټول شي او وسله د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت په سلاح کوټونو کې کیښودل شي او ټول تعیینات دملي او بین المللی معیارونو له مخې دمرکز له خوا د لیاقت، پوهې، هیواد پالنې په بنسټ وشي که داسې ونه شي هیواد به اوپوهې دپرمختګ د مخالفینو مخه یې ونیوه د دې دپاره چې په افغانستان کې په ډاډه زړه ګټور کارونه وشي باید ټول قوماندانان دخپلو پلارونو او نیکونو په څیر د مرکزی دولت په شاوخوا راټول شي او وسله د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت په سلاح کوټونو کې کیښودل شي او ټول تعیینات دملي او بین المللی معیارونو له مخې دمرکز له خوا د لیاقت، پوهې، هیواد پالنې په بنسټ وشي که داسې ونه شي هیواد به د تباهۍ خواته لاړ شي هیله ده قوماندانان د افغانستان دخپلواکی داتلانو لار هیره نکړي او دمرکز درناوی وکړي.

# تامین امنیت افغانستان...

آقای استرا خاطر نشان کرد که "دولت بریتانیا و دیگران، در زمینه تامین امنیت، فقط کمک می کنند، اما مسوولیت اصلی بر دوش خود افغانها است."

وزیر خارجه بریتانیا گفت که گسترش تیم های بازسازی ولایتی (PRTs)، مبارزه با مواد مخدر، اصلاحات اداری و کنترول بیشتر مرزها، محور گفتگو هایش با مقامات افغان را تشکیل می دهد.

او در پاسخ به پرسشی در مورد امکان گسترش تیم های بازسازی ولایتی به سایر ولایت افغانستان گفت: "این موضوع به توافق دولت افغانستان با کشور های کمک کننده بستگی دارد."

آقای استرا همچنین از اعزام پنجاه تن از سربازان بریتانیایی در ترکیب تیم های بازسازی ولایتی به شهر مزار شریف خبر داد.

وزیر خارجه بریتانیا همچنین از تولید و قاچاق مواد مخدر به عنوان یکی دیگر چالش های پیش روی دولت انتقالی افغانستان نام برد و از تعهد دولتش به همکاری درازمدت در مبارزه با این مشکل سخن گفت.

او گفت: "این تنها مشکل افغانستان نیست، بلکه اثرات آن در بریتانیا نیز محسوس است و بیشتر مواد مخدری که در بریتانیا مصرف می شود، در افغانستان تولید می شود."

آقای استرا گفت: "درکنار اقدامات پیشگیرانه، باید به دهقانان افغان در زمینه کشت متبادل و فعالیت های مفید اقتصادی نیز کمک شود."

داکتر عبدالله وزیرامور خارجه نیز، در این کنفرانس مطبوعاتی، از همکاری های دولت بریتانیا تشکر کرد و گفت: "دولت بریتانیا، نه تنها کمک هایی را که برای بازسازی افغانستان وعده داده بود، پرداخت کرده است، بلکه در سایر زمینه ها نیز همکاری های مفید و موثری با دولت و مردم افغانستان داشته است."

وزیر خارجه بریتانیا همچنین شامگاه امروز، با حامد کرزی رییس دولت انتقالی افغانستان دیدار و گفتگو کرد

# برادعی به تهران می رود

براساس گزارش های رسیده از تهران، محمد البرادعی، مدیر سازمان بین المللی انرژی اتمی، عازم تهران خواهد شد.

هدف از این سفر مذاکره در مورد بازرسی از تاسیسات هسته ای ایران عنوان شده است.

گفته می شود که آقای برادعی امروز، وارد تهران خواهد شد و به یک روز در این کشور اقامت خواهد داشت.

رییس سازمان بین المللی انرژی اتمی در ماه فبروری سال جاری هم به ایران سفر کرد و سفر اعلام شده وی دومین دیدار وی از این کشور خواهد بود.

روز دوشنبه، دولت ایران از آقای برادعی دعوت به عمل آورد تا برای گفتگو پیرامون "مشکلات فنی" که مانع از حصول توافق در مورد بازرسی های گسترده تر مورد نظر سازمان بین المللی انرژی اتمی از تاسیسات هسته ای ایران می شود به تهران سفر کند.

بقیه سرمقاله

# ریختن خون در مسجد...

اگر آنان که خود را مسلمانان و حافظان دین و دیانت میشمارند چگونه حاضر میشوند که حریم مقدسی را با خون و جنایت بیالایند و به نامش عمل اسلامی بگذارند و برآن جواز شرعی صادر کنند.

اینها اعمالیست مذبوحانه که هیچگاه راه به جایی نخواهد برد و حقانیت مردم را که خدا همیشه با آنانست با این سنگ اندازیها و مسلمان کشیها تخطه، تخواهد کرد. زیرا مردم آگاهند و میدانند که عناصر و مرتکبین این اعمال که جز دست نشاندگان اجانب نیستند، میخواهند که کشور را دوباره به مغاک بدبختی ها و ضلالتها به اندازند و لانه عناصر بیباک و تروریست بسازند و وطن و مردم را از کاروان تمدن و ترقی باز داشته و باز هم به عقب نگهدارند.

# راتلونکي د ځوانانو نوده

متصدی صفحه: حسیب نوری

د رنو لوستونکو ! دکابل ښار دځینو ځوانانو نظر موپوښتلی چې دادی وړاندې کیږي!

**محمد قاسم** چې اوس دکابل ښار دپروان مینې اوسیدونکی او دلسم ټولکی زده کوونکی دی وایی: غواړم په راتلونکی کې ډاکټر شم اوهیواد ته خدمت وکړم. دغه راز غواړم دهغو ناروغانو درملنه په وړیا توګه سرته ورسوم چې بې وزلي دي.

**اسمعیل "حمیدی"** دکابل پوهنتون محصل وایی: زه غواړم زما هیواد دنورو هیوادونو په پرتله ډیر پرمختګ کړي. خو که چیرې مونږ مسلمانان په ګډه له همدا اوسه د پرمختګ لپاره زیار پیل کړو دا به هیڅ ناشونې کار نه وي چې افغانستان د اسلامي هیوادونو په سر کې ځای ولري. دې زیاتوی چې دغه کار به ځینو ته ناشونی ښکاره شي په تیره بیا چې نورو هیوادونو داسلامی هیوادونو په پرتله ډیر پرمختګ کړی

# مکتبهای جدید سیاسی جهانبین

زاد گاه اکثر مکتبهای سیاسی، یا در اروپا بوده ویا در امریکا. ولی در این اواخر که خوشبختانه شرق نیز پدر ومادر سیاسی یافت و دردی زایمان کشید، گهواره تهی فرهنگ سیاسی خویش اگرما بخشید و چند فرزند (مکتب سیاسی) فراخور حال خود را تحویل تحولات سبفره سیاست داد. اینک جهت خدمت به فرهنگ سیاسی جهان برخی از این مکتبهای سیاسی جدید مولود شرق را آشنا میشویم:

۱_ شله یزم: این مکتب سیاسی پس از جنگ جهانی دوم در جاپان تولد یافت. جاپانیها درحالی که از جانب ایالات متحده امریکا تحت حملات (( اتمی)) قرار گرفته و در شهر های ((هیروشیما)) و((ناگاساکی)) از کشته ها بشته ها بوجود آمده بود. مجدداً با امریکا قرار دوستی گذاشته و مکتب سیاسی (( شله یزم)) را شکل بخشیدند.

مکتب سیاسی (( شله یزم)) با خصومت و انتقامجویی مخالف است وبا استفاده از ضرب المثل (( قماره که باختی، حریفه از دست نده!)) با حریف بازی میکند. این مکتب سیاسی در کشور های هندوستان، پاکستان، ایران و افغانستان طرفداران زیادی دارد.

۲_ سوته یزم: با افتخار میتوان گفت که زادگاه این مکتب سیاسی افغانستان عزیز ما است.

بانی این مکتب معلوم نیست. ولی از قدیم الایام دست اندر کاران سیاسی افغان را عقیده بر این بوده که (( تا نباشد چوب تر، فرمان نبرد ... !)) چنانچه بیگانه هانیز با الهام از رفتار و گفتار حکمرانان سیاسی این کشور افغانها را " سوته مسلمان" گفته اند. "سوته یزم" با منطق، قانون، بیان، استدلال و آزادی مخالف است و بر زور وجبر وخشونت، مهر تایید میگذارد. خوشبختانه این مکتب در سراسر جهان طرفداران فراوان دارد. ولی در شرق از حامیان زیادی بر خوردار است.

۳_ مرغیزم: این مکتب درپاکستان زاده شده و در هندوستان، ترکیه، ایران، تاجکستان و ترکمنستان و پاکستان مورد توجه ومواظبت وپرورش قرار گرفته است. "مرغیزم" در واقع متضمن بقا و استمرار زمامداران سیاسی است که مردم خود داوطلبانه از بازیهای سیاسی کنار میروند وحکمرانان سیاسی را راحت میگذارند

این مکتب سیاسی، حکمرانان سیاسی را قادر میسازد تا از نیروی مردم پیوسته سود سیاسی ببرند، درحالی که مردم همانگونه که هستند از جاتکان نمیخورند و باعث زحمت ودرد سر نمیشوند. این مکتب سیاسی در کشورهای عقب مانده جای فراخ دارد.

۴_ چره یزم: جای تولد این مکتب سیاسی معلوم نیست، ولی در شرق وبویژه در افغانستان بیشتر مورد استفاده قرار دارد. این مکتب سیاسی در مقطع زمانی که سردرگمی سیاسی وعدم استقرار وحاکمیت سیاسی در جامعه مطرح است، جاذبه پیدا میکند و مورد توجه قرار میگیرد این مکتب، سمت وسوی مشخص سیاسی ندارد و دست سیاسیون را باز میگذارد تا دریک وقت وزمان، دارای چندین مشی وهویت سیاسی باشند و در چندین حزب ونهاد سیاسی فعالیت کنند. فایده "چره یزم" در این است که سیاسیون میتوانند از موقعیت بهتری برخوردار باشند. وچندین برگ برنده در دست داشته وعندالموقع از هر یک بهره ببرند. یکی از ویژه گی های "چره یزم: برد حتمی "چره یست" هاست وبنابر همین خصوصیت اکثراً مورد دلچسپی قرار میگیرد.

۵_ لشمیزم: این مکتب اگر چه نو مینماید ولی در واقع ریشه خیلی قدیمی دارد وپیدایش آن با ظهور سیاست وحکومت در جوامع بشری همزمان است. با این هم تولد این روش سیاسی بعنوان یک مکتب، تازه گی دارد علما ودانشمندان ومحققین را عقیده براین است که "لشمیزم" پدیده شرقی غربی الاصل بوده واز مادر انگلیسی و پدر عربی شکل گرفته و به دنیا آمده است. طرفداران این مکتب وکلیه "لشمیستها" دارای ماهیت ثابت نبوده وعندالموقع تغییر شخصیت میدهند. این مکتب، سیاسیون را قادر میسازد تا درهر زمان و مکان، منافع خویشرا شناسایی کرده و بر وفق مراد و مقصد خود حرکت کنند. "لشمیستها" برنامه واساسات ایدیالوژیک ندارند و ثبات سیاسی را مردود میدانند. در هر سازمان ونهاد سیاسی نفوذ میکنند و در لحظات حساس و خطیر، تغییر جهت داده و چون ماهی، از چنگ فرار میکنند، با هر کس جور درمی آیندو سرانجام باهیچکس نمیسازند. درچشمی به هم زدن گل میشوند و بلا فاصله درجای خار قرار میگیرند، عناصر اساسی این مکتب (فریب، نیرنگ ،چاپلوسی، زر اندوزی و ترویج فساد و از خود راضی بودن) است "لشمیستها" ظاهرخیلی پرجاذبه داشته ودرباطن (کینه توز، عقده یی، توطئه گروانتقامجو) اند. حوصله "لشمیستها" برای انتقامکشی، خیلی فراخ است. طوری که حالا میکارند وتا صد سال برای محصول انتظار میکشند. شناخت از "لشمیستها" فوق العاده دشوار و بازیهای سیاسی شان برای جامعه و پروسه سیاسی کشور ها وجهان، خیلی خطرناک است. طرفداران این مکتب سیاسی، در سرتاسر جهان وجود دارند ولی درنقاط مختلف جهان، مزاج و آرایش روانی وخوی وخلق آنها یکدست وهمگون نیست. زیرا طرفداران این مکتب سیاسی متناسب باوضعیت خود رامی آرایند.

۶_ گنسیزم: این مکتب سیاسی در شبه قاره هند چشم به جهان گشوده و در آسیای میانه پرورش یافته است. امروزه "گنسیزم" درافغانستان بیشترین رواج را داشته و رویهمرفته قوام میگیرد.

اگر چه در گذشته بازار این مکتب سیاسی در "چین"، "کوریا"، "ویتنام"، "لائوس" و "کامبوج" خیلی گرم بود، ولی طی پنج دهه اخیر قرن بیستم در کشور های مذکور طرفداران این مکتب روبه کاهش گذاشته است درمیان مردم بومی امریکا و آسترلیا نیز طرفداران این مکتب سیاسی کم نیستند.

"گنسیزم" از لحاظ ماهیت مترادف است با "پاسیفیزم" با این تفاوت که "پاسیفیزم" دارای منابع تیوریک و ایدیولوژیک است. درحالی که "گنسیزم" صرفاً جنبه عملی داشته و طرفدارانش با فعالیت خود جوش دست اندرکار اند. این مکتب همانند "هیپنوتیزم" برسیاسیون و طرفداران خود اثر میگذارد و آنها را بعد از وقوع واقعه وحادثه در برابر عمل انجام شده قرار میدهد. فرجام فعالیت "گنسیست ها" تسلیم است. این مکتب سیاسی، در برابر سایر مکتب های سیاسی، فوق العاده آسیب پذیر بوده و در واقع برنامه تدافعی ندارد و زود از هم میپاشد.

۷_ بربادیزم: مکتب سیاسی "بربادیزم" از ضرب المثل "من زنده، جهان زنده. من مرده جهان مرده!" بار دار گردیده و در افغانستان پیدایی یافته است. طرفداران این مکتب، دارای مغز گرم و خون سرداند. همه چیز را برای خویش میخواهند و اگر مراد و مقصد شان بر آورده نشد، همه چیز را برباد میدهند. برای طرفداران مکتب سیاسی "بربادیزم" برنامه و تاکتیک و استراتیژی اهمیت ندارد طرفداران این مکتب سیاسی اگر با زنده گردند در جای پای "فاشیزم" و "نازیزم" و "دگماتیزم" پا میگذارند و زنده گی خود ودیگران را به قمار میبندند.

"بربادیست ها" خون رابا آب نه، بل که باخون میشویند. و با آشتی وکنار آمدن سازگار نیستند. بیشترینه "بربادیستها" حقایق را وارونه میگیرند وکوچکترین تمایلی به پذیرش واقعیت ها نشان نمیدهند. اینها اکثراً مورد سوظن قرار میگیرند و در بازی های سیاسی، فریب میخورند.

لجاجت، غرور بیجا، خودخواهی و خود پسندی و از خود راضی بودن و عاقبت نیاندیشی، از ویژه گیهای بربادیستهاست طرفداران "بربادیزم" با صبر وتحمل و شکیبایی ودقت و سنجش در امور، بیگانه اند و هرگاه فشار وسرزنش بر آنها تحمیل گردد بیماری عقده وانتقامکشی به سراغ آنها می آید وضمن تحمل درد و رنج و عذاب، از هیچ وسیله مشروع ونا مشروع جهت انتقام گیری و فرونشاندن عقده خود، دریغ نمیورزند.

فشار وخشونت را بحیث بهترین ابزار تحقق مطالبات خود به کارمیگیرند. و باگفتگو و مفاهمه و تبادل نظر سازگار نیستند. ترجیح میدهند "خود کوزه و خود کوزه گر وخود گل کوزه" باشند. زورسالاری شعار بلا منازعه بربادیست ها است وهر آنچه را که با زور به دست بیاورند، ابراز افتخار و رضایت میکنند. برای بر بادیستها، آخرین راه نجات از شکست حتمی، خودکشی است که آنرا شجاعت و از خود گذری و انمود میکنند.

# دعدالت دتینګښت لپاره

## سمراب دیدار

دهري ټولنې داکثريت غوښتنه دخپل راتلونکی ژوندانه دهرارخيزو خواوو دپرمختګ اوپه ټولنه کې ديوه سوکاله ملي او ارامه ژوندانه درامنځته کولو لپاره وي ددغه هدف دلاسته راوړلو ، ساتلو او پياوړی کولو لپاره ديوه مرکزی باثباته او ولس ته دمنل شوی اوټاکلی دولت شته والی او له دغه شته والی سره دخلکو دهرارخيزې اوپه وخت مرستې اوربتينوالي ته ضرورت د حکومت داری په برخه کې يو مهم جز بلل کيږي.

خو زمونږ پدې خپل سری ټولنه کې ډير څه دنوري پرمختللی او پرمختلونکی نړۍ داصولو او مقرراتو په خلاف سرته رسېږي کوم چې ددولت داری په برخه کې کمزوری رامنځته کوی ځکه چې له درويشت کلونو ځخه زيات کلونه کيږي چې دلته دجنګ او جګړو ډګر تود شوی په جګړو او خپل سريو کې بلد شوی او راپورته شوی يو ځينې اشخاص همدا اوس هم نه غواړی چې په ټولنه کې يوه سراسری سوله او ملی يووالی رامنځته شي اوپه هيواد کې ددولت داصولو او مقرراتو په چوکاټ کې يو قانونيت رامنځته شي نه غواړي چې ټولنيزې ګټې ترشخصي ګټو مقدمې اوروا ويولي.

همدا وجه ده چې دهيواد په بيلابيلو برخو او ولايتو کې ځينې چارواکی دمرکزی اداري له خوا دتبديلی په صورت کې يو بل ته ګوري او خپلې نيول شوی اويا ورسپارل شوی ځوکی يې ټينګې کړی دی هرتبديل شوي چارواکی دا خبره دخپلې ځوکی د ساتلو اوټينګولو په برخه رامنځته کوي چې لومړی دی هغه فلانی چارواکی له وظيفې ګوښه شي زه خو ورته تيار يم او دا ډول پلمې دهر يوه له خوا رامنځته کيږي په حقيقت کې د هر يو له خوا دداسې پلمو کول ددوی دادارې کمزوری رامنځته کوی. ددوی په ادارو کې اداري فسادونه او داسې نور چې ددولت داری مقرراتو ته زيانونه رسوي رامنځته کوی دا پلمې ځکه کيږي چې دولت له هر يوه سره نرم چلند پرمخ بيايی اودا کار په حقيقت کې ددولت دکمزوری او دولس په وړاندې دبې باوری درامنځته کولو پيل بلل کيږي

ديوې وروسته پاتې ټولنې لپاره اوهغه هم چې څو لسيزې يې په جګړو کې تيرې شوي وي اوچارواکی دمرکزي اداري له اوامرو ځخه هم په يوه بڼه نه په يوه بڼه سرغړونه کوي دعدالت دتحکيم اوټينګښت لپاره دکتاتوری يوه ډيره ښه لاره ده او زمونږ د هيواد په دې خپل سری ټولنه کې يې نتيجه هم ورکړې ده او زمونږ خلکو ډير لرې نه بلکې په نږدې تيرو کلنو کې دا تجربه ليدلې ده. اوس ددولت لپاره لازمه ده چې دنورو له تجربو ځخه په استفاده دغوځ او جدی اقدام ترڅنګ دديکتاتوری اصل چې دوروسته پاتې ټولنو لپاره ډير ضروری بريښي عملی کړی که چيرې دولت له خپلو هغو چارواکو سره چې مرکزيت نه مني اوعواید په خپله ګټه کې اچوي دولت بايد دديکتاتورانه متروکی په درلودلو سره دهغوی دليرې کولو توانايی په ځان کې پيداکړي

# In This Issue:

1- Thirty Percent Of Animals Died
2- What Was Discussed In The Ministers' Meeting?
3- Bomb Blast In Mosque
4- British Foreign Minister Gets To Kandahar
5- Three Americans Killed In Iraqi Bomb Blasts
6- Israeli Soldiers Kill Armed Man
7- Aiatullah Sistani Condemns American Plans In Iraq
8- Afghans Are Responsible For Security In Afghanistan
9- Mohammad Albradi To Visit Tehran
10- Entertainment Page

زیرنظرهیات تحریرانتشار میباید
اراده
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری" و محمدعارف "لودین"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۲ افغانی
ارائه در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷ - ۰۷۰۲۷۹۳۰۴
ERADA Daily
Weekly Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Fuonder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070279304 Mobil Phone: 070224787
eradadaily@hotmail.com Engineerjamil_amiry@yahoo.com